مسير
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۹مه | ٤٦٥مه گڼه

# د ظلم او ناروا دوام؛

## حامد کرزی: د عامو وګړو د کورونو نړول د بشري حقونو ښکاره نقض دی



۳



### ټاکنیزې لانجې او د ۲۰۱۴ کال د بحران تکرار

۲ مخ

### آیندۀ صلح در افغانستان؛ کشمکش های منطقوی و استراتیژی های جهانی

۲ مخ


### د کاري مصاحبې پر مهال دې پوښتنو ته مخکې له مخکې ځواب پیدا کړئ!

۳ مخ


## ځېره

۴ مخ

### علي شريعتي



شريعتي د اسلامي نړۍ يو متفاوت فکر لرونکی ديني عالم و. دی سره له دې چې مذهبي سړی و، خو پر ځينو مذهبي مسايلو په تېره په شعيه مذهب کې يې پر ډېرو شته دودونو نيوکې کولې.

## کرنې وزارت: په هرات، بلخ، کونړ او لغمان کې به د کبانو د روزنې ۸۰ فارمونه جوړ شي



د کرنې او مالدارۍ وزارت چارواکو ويلي چې په بېلابېلو ولايتونو کې د کبانو روزنې ۸۰ نوي فارمونه جوړېږي.

د دغه وزارت وياند اکبر رستمي ويلي چې دغه فارمونه به د کال ترپايه په هرات، بلخ، کونړ او لغمان ولايتونو کې جوړ شي.

هغه زياته کړې: «د کبانو د روزنې د ۸۰ فارمونو د جوړېدو کار په جريان کې دی او د کال تر وروستيو پورې به بشپړ شي. له دغو ۸۰ فارمونو څخه ۲۰ په هرات، ۲۰ په بلخ، ۲۰ په لغمان او نور په کونړ کې تر کار لاندې دي، چې يوشمېر يې بشپړ شوي او يوشمېر نور به د کال تر وروستيو پورې بشپړ شي».

نوموړي ويلي، تر دې وړاندې د کرنې وزارت او خصوصي سکټور په مرسته، د هېواد په کچه د کبانو د روزنې څه باندې دوه زره فارمونه جوړ شوي دي. د کبانو د روزنې د دغو فارمونو د توليد کچه په کلني ډول ۱۰ زره متريک ټنو ته رسېږي او زرګونو کسانو ته پکې د کار زمينه برابره شوې ده.

## ملګري ملتونه: له پاکستانه ۴۴ لکه افغان کډوال خپل هېواد ته ستانه شوي دي

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو ادارې ويلي، تر اوسه له پاکستان څخه ۴۴ لکه افغان کډوال خپل هېواد ته ستانه شوي دي.

يادې ادارې ويلي، له ۲۰۰۲ ز کاله راپدېخوا کله چې له پاکستانه د افغان کډوالو د بېرته ستنېدو بهير پيل شوی دی، شاوخوا ۴۴ لکه افغان کډوال خپل وطن ته تللي دي.

په ورته وخت کې په پاکستان کې د يادې ادارې وياند ويلي، د يخ موسم له امله هر کال د کډوالو د ستنولو لړۍ درول کېږي، خو له هغوی سره به د دې سازمان له لوري کېدونکې مرستې دوام ولري.

دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د معلوماتو له مخې، په پاکستان کې اوسمهال شاوخوا ۱۴ لکه قانوني او اته لکه غير قانوني افغان کډوال موجود دي چې ډېری هغه يې په خيبر پښتونخوا کې اوسېږي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې څو ورځې وړاندې د هرات د کډوالو چارو رياست چارواکو ويلي وو چې روان کال له ايرانه تر ۸۰ زرو کډوالو په جبري ډول ايستل شوي دي. دوی ويلي وو چې دغه کډوال اوس په هرات او نورو ولايتونو کې په ناوړه وضعيت کې دي او جدي مرستو ته اړتيا لري.

## د برېښنا شرکت پېرونکي د برېښنا له درکه نهه میلیارده افغانۍ پوروړي دي



۵ مخ

## شورای امنیت ملی: دیوارهای امنیتی در شهر کابل داخل محوطه‌ها جابجا گردد



شورای امنیت ملی، به سکتور امنیتی هدایت داده است تا تمام دیوارهای امنیتی که بیرون از ساختمان‌ها در شهر کابل جابجا گردیده است، به داخل محوطه‌ها انتقال گردد.

در خبرنامه مطبوعاتی شورای امنیت ملی که دیروز منتشر شده، آمده است که در نشستی تحت رهبری حمدالله محب مشاور امنیت ملی، به طور خاص از والی کابل و مسئولین امنیتی خواسته شده است که در این خصوص، پلان‌های‌شان را آماده کرده و هرچه زودتر عملی نمایند.

منبع افزوده است که نشست رهبری سکتور امنیتی، در همین حال روی ازدحام ترافیکی شهر کابل و مشکلات ایستگاه‌ها نیز بحث نموده و در این مورد به شاروالی کابل وظیفه سپرده شد؛ تا هر چه زودتر طرح بدیل را ترتیب و عملی نمایند.

مشاور امنیت ملی، از تمام اعضای جلسه خواسته است که در کنار تأمین امنیت، به نمای ظاهری شهر نیز توجه شود و برای رفت و آمد زمینی همشهریان نیز یک سلسله اقداماتی را روی دست گیرند.

در این نشست، روی مناطق نا امن سایر ولایات کشور نیز بحث صورت گرفت. مشاور امنیت ملی تأکید ورزید که به مناطق یاد شده، به اسرع وقت رسیده‌گی صورت گیرد و سلسلۀ عملیات‌های موثر که در نتیجۀ آن، قبلاً دشمن سرکوب گردیده است، باید وسیع گردد.




## دریــځ

## ټاکنيزې لانجې او د ۲۰۱۴ کال د بحران تکرار

پرون یو ځل بیا د ټاکنو کمېسیون ځینې ولایتي دفترونه د معترضانو له غبرگون سره مخ وو. معترضانو هڅه کړې چې د ځینو محلونو د رایو د بیاشمېرنې مخه ونیسي. په بدخشان او ځینو نورو سیمو کې د تاوتریخوالي پېښې هم شوې دي. ورمه ورځ هم په دغو اعتراضونو کې تاوتریخوالی شوی و چې په کندوز کې یو تن ټپي شوی و. له دې سره پر ټاکنو کمېسیون او حکومت نیوکې ډېرېږي. پر ټاکنو کمېسیون له دې امله نیوکې دي چې قانون او طرزالعملونه تر پښو لاندې کوي او د یوه مشخص ټیم په گټه کار کوي. پر حکومت نیوکې دي چې د کمېسیون په کار کې لاسوهنه کوي او امنیتي ځواکونه د خپلو ټیمي گټو لپاره د معترضینو پر ضد کاروي.

پرون یو ځل بیا ځینو کاندیدانو، پخواني ولسمشر او ځینو سیاستوالو د ټاکنیزو لانجو په تړاو اندېښنې ښودلې دي او په دې لانجو کې یې د امنیتي ځواکونو ور گډول ناسم کار گڼلی دی. له دې ورستیو بدلونو ښکاري چې زموږ ټاکنیزه لانجه نه یوازې زیاتیږي، بلکې مختلف اړخونه پیدا کوي. د ټاکنو کمېسیون د دې پر ځای چې روڼ، قانوني او سم عمل وکړي، یو لوري ته یې تمایل زیات دی. که د کمېسیون پرېکړې سمې، قانوني او د طرزالعمل پر اساس وي، نو پکار ده چې وضاحت ورکړي. د کمېسیون چارواکي باید په دې تړاو واضح دریځ ولري، رسنیو ته راشي، پوښتنو او نیوکو ته ځواب ووایي چې خلک قانع شي او پوه شي چې کمېسیون سم کار کوي. اوس د کمېسیون د کار ډول او په دې تړاو د وضاحت نه ورکول نه یوازې شکونه ډېروي، بلکې ټاکنې یوه نوي بحران ته وړي. له همدې امله تر ټولو اساسي پړه د دوی پر غاړه ده. حکومتي مشرانو ته هم پکار ده چې امنیتي ادارې له دغو لانجو لرې وساتي او حکومتي ځواک هم ونه کاروي.

همدا اوس پر دولت جوړوونکي ټیم تور دی چې دولتي امکانات کاروي او په همدغو امکاناتو یې په ټاکنو کې پراخې درغلۍ کړې دي. څه کم یو میلیون رایې تر اوسه پورې بې اعتباره گڼل شوې دي چې غوڅ اکثریت یې د دولت جوړوونکي ټیم په گټه کارول شوې وې. ویل کېږي چې دولت جوړوونکي ټیم د دغو درغلیو لپاره ولایتي ادارې، والیان، ولسوالان او آن امنیتي ځواکونه هم کارولي دي چې پکار ده په دې تړاو یوه بې طرفه څېړنه وشي او دا تورونه و ارزوي.

که د روانو ټاکنیزو لانجو په تړاو یو اساسي گام وا نه خیستل شي، ستونزې به ډېرې شي او پر موږ یو ځل بیا د ۲۰۱۴ ز کال تجربه تکرارېدونکې ده. د کمېسیون تېروتنې، د دولت جوړوونکي ټیم درغلۍ او حکومتي لاسوهنې د دې سبب کېږي چې ټاکنې یو واقعي بحران رامنځ ته کړي. له همدې امله وېره ده او داسې ښکاري چې بهرنیان هم د همداسې یو څه په لټه کې دي. داسې نه ښکاري چې دا ټاکنې به آن پایله ورکړي، له همدې امله سیاستوال او خلک باید د یوه داسې بدلون په لټه کې شي، چې هم له یوه اړخه له دغه بحران څخه ووځو او له بله اړخه دا بدلون د افغانانو له ستري غوښتني سره مرسته وکړي، هغه د جگړې خاتمه او له وسله والو مخالفینو سره سوله ده.

# آیندهٔ صلح در افغانستان؛

## کشمکش های منطقوی و استراتیژی های جهانی

نویسنده: اجمل جلال- عضو مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

**بخش اول:**

بعد از ۱۸ سال جنگ، شرایط جهان، منطقه و افغانستان مسیری جدیدی به خود گرفته و نوید صلح و ثبات سیاسی را با خود دارد. در مرکز این تغیرات پروژه های بزرگ اقتصادی و رقابت روی کنترل مارکیت های اقتصادی منطقه و جهان، قرار دارد. این سیر تحول، اگر از طرف حکومت، سیاسیون بیرون از حکومت، احزاب سیاسی، فعالان مدنی و عموم مردم افغانستان به شکل درست و معقول آن، در جهت برقراری صلح و ثبات در کشور، مدیریت گردد، می تواند نقطه ای پایانی جنگ ۴۰ ساله افغانستان باشد. برای رسیدن به این هدف، دانستن انگیزه و چگونگی تحولات در منطقه و همزمان با آن منافع کشورهای ذیدخل، امر ضروری است. به همین منظور، این تحلیل مختصر به هدف روشن ساختن اولویت های رسیدن به صلح، وقایع و تحولات در منطقه را بررسی نموده و روی نکات کلیدی رسیدن به صلح تأمل می نماید.

واژه های کلیدی: صلح، افغانستان، سیاست های همسایه در افغانستان، سیاست منطقوی و افغانستان.

**مقدمهٔ عمومی**

هجده سال قبل آغاز یک جنگ در افغانستان و حمایت کشورها از آن یک امر جبری بود. امریکا، زیر پوشش دفاع از منافع و امنیت ملی، توانست هم پیمانان جهانی و منطقوی خود را قناعت داده، یا هم مجبور سازد که همراه و یا علیه امریکا جبهه گیری نمایند. نفس حوادث یازدهم سپتامبر سال ۲۰۰۱ میلادی، جرئت مخالفت با این جنگ را سلب کرده بود. وقتی اکثریت مطلق کشورها، به شمول پاکستان، ایران، روسیه، چین و هند، به نعره امریکایی جنگ لبیک گفتند، همزمان با آن، هر یکی ازین کشورها به فکر حفظ منافع ملی کوتاه مدت و دراز مدت خود در افغانستان و اطراف آن شدند. در طول ۱۸ سال، همانگونه که واقعیت های زمینی تغییر می کرد، در موازات با آن منافع ملی کشورهای دخیل در قضیه افغانستان هم رو به تغییر بود. پاکستان دیگر به بهانه ای مبارزه با تروریزم میلیون ها دالر به دست نمی آورد و از جنگ در افغانستان به جز تخریب روابط با دول همسایه، وضعیت بدی سیاسی- اجتماعی و وضعیت اقتصادی ناگوار چیزی دیگر به دست نه آورده است. مهمتر اینکه به عنوان کشوری که دارای تولیدات صنعتی و صادرات است، از بازارهای آسیای میانه محروم گردیده است. روسیه از حضور نظامی امریکا در افغانستان و آسیای میانه ناراحت است و آن را خطری برای امنیت ملی خود می داند. چین وضعیت بد امنیتی در منطقه را به نفع پروژه های کلان اقتصادی خود نمی داند. ایران هم به علت موجودیت بحران های اقتصادی داخلی ناشی از تحریم های اقتصادی و حضور پر مصرف اش در خاور میانه، باید خطوط منافع ملی خود را بین ثبات در منطقه و حمایت از گروه های مسلح، به شکل دقیق ترسیم نماید.

درین نوشته آیندهٔ صلح افغانستان را، در بین کشمکش های کشورهای منطقه و جهان، به تحلیل می گیریم. نخست تغییر در مواقف و منافع دول همسایه را از آغاز جنگ ۱۸ ساله تا امروز مطالعه می نماییم. به تعقیب آن محور های منطقوی و جهانی در قبال صلح و جنگ در افغانستان را بررسی نموده و تأثیرات آن را روی آیندهٔ صلح در افغانستان ارزیابی می کنیم. در اخیر هم پیشنهادات را برای اولویت های سیاست منطقوی افغانستان ارائه خواهیم کرد.

**افغانستان و دول مقتدر منطقه**

**پاکستان**

پاکستان هر چند در آغاز مخالف حمله نظامی امریکا بر افغانستان بود؛ اما بالاخره شریک مستقیم این جنگ شد. پاکستان از یک طرف اگر به فکر به دست آوردن میلیون ها دالر امریکایی، بابت فراهم کردن مسیر امن برای کاروان های نظامی امریکا و سهم مستقیم در جنگ شد، از طرفی هم از چگونگی نظامی که باید در افغانستان تشکیل می شد، در تشویش به سر می برد. افغانستانی که روابط خوب و نزدیک با هند داشته باشد، برای نظامیان پاکستان قابل تشویش است. به همین دلیل، به عنوان دوست استراتیژیک امریکا در صف معرکه موسوم به جنگ علیه تروریزم قرار گرفت و بین سال های ۲۰۰۲ – ۲۰۰۸ میلادی کمک نظامی و اقتصادی ۱۱ میلیارد دالری به دست آورد و هم طالبان و گروه های دیگر را اجازه داد تا به پاکستان پناه برده و بعد از یک استراحت کوتاه دوباره منسجم شوند. به این ترتیب، پاکستان در طول ۱۸ سال گذشته، با احتیاط، تناقض در مواقف و بیم از یک آینده نامعلوم در افغانستان، قدم برداشته است.

استراتیژی شک و ترس پاکستان در مورد افغانستان به آغاز تأسیس پاکستان بر می گردد. در سال ۱۹۴۷ میلادی افغانستان کشوری بود که به پیوستن پاکستان به ملل متحد رأی منفی داد. این، به علت جنجال های سرحدی، به معنی نه پذیرفتن کشوری بنام پاکستان بود. پاکستانی ها تا هنوز هم از آن به عنوان مانور دشمن مآبانه افغانستان یاد می کنند. به تعقیب آن، در زمان داود خان مسئله پشتونستان به مثابه یکی از موضوعات حیاتی پالیسی خارجی افغانستان مطرح گردید. داعیه افغانی پشتونستان و نه پذیرفتن خط دیورند، برای پاکستان تهدیدی برای امنیت ملی و تمامیت ارضی است که با لشکر کشی و جنگ تمام عیار از آن دفاع خواهد کرد.

نتیجه اینکه شک و ترس پاکستان اگر تا حدی واهی و غیر واقعی باشد تا حدی زیادی هم فکتورهای زمینی وجود دارند که باعث تقویت آن می شود. به همین دلیل موجودیت حکومت و اردوی قوی در افغانستان مایهٔ هراس دولت مردان پاکستانی است. این هراس رول مهمی در ترسیم ستراتیژی پاکستان برای افغانستان در مرحلهٔ بعد از یازدهم سپتامبر بازی کرده است.

در پهلوی مسئله خط دیورند و داعیهٔ افغانی پشتونستان، پاکستان از اغتشاش اقوام پشتون و بلوچ در داخل سرحدات کنونی هراس زیاد دارد و می خواهد هر نوع تحرک در بین این مردم را سرکوب نماید. درین مورد کوچکترین حرکت حکومت افغانستان باعث نگرانی شدید پاکستان می شود. در سال ۲۰۰۶ میلادی پاکستان ادعا کرد که استخبارات هند، در ۲۴ قونسلگری هندی مستقر در افغانستان، به آموزش شورشیان بلوچ مصروف است. پاکستان ظاهراً هرچند خونسرد عمل می کند ولی واقعیت اینست که به علت سیاست های اشتباه خودش در مقابل بلوچ ها و پشتون ها، ازین دو قوم در هراس واقعی قرار دارد. تحریک محافظت از پشتون ها این هراس سردمداران پاکستان بیشتر افزوده است، و با تویت تأییدی رئیس جمهور افغانستان در مورد این تحریک، این هراس از شکل خونسرد خود به عکس العمل شدید مبدل شده است.

آب دریای کابل، که به پاکستان سرازیر می شود، یکی از موضوعات مهم دیگر سیاست پاکستان در مقابل افغانستان است. این موضوع، به علت عدم موجودیت بندهای مؤثر آب گردان روی این دریا در داخل سرحدات افغانستان، تا هنوز به مباحث جنجالی مبدل نه شده است. ولی علایم بروز این جنجال در رسانه های کشور پاکستان، در مباحث علمی و مراکز پژوهشی پالیسی ساز آن کشور همین اکنون هویدا است.

به طور خلص؛ استراتیژي پاکستان در قبال افغانستان، به شکل شدید آن ربط مستقیم به چگونگی روابط افغانستان با هند، مسئله خط دیورند، داعیه افغانی پشتونستان و حمایت از بلوچ ها، و آب دریای کابل دارد.

**ایران**

ایران، که روابط خوشی با رژیم طالبان نه داشت، در سال ۲۰۰۱ میلادی با دادن استخبارات به امریکا جبهه ای خود را در سقوط رژیم طالبان مشخص ساخت. با این کار، از یک طرف می خواست حکومتی در افغانستان به وجود بیآید که روابط خوبی با ایران برقرار سازد. از طرف دیگر از طریق همکاری در افغانستان می خواست روابط ناگوار گذشته ای خود با امریکا را بهبود بخشد. ایران درین هدف موفق بود ولی این موفقیت بیشتر از دو سال دوام نکرد. فعالیت های شرق میانه سپاه پاسداران و پروگرام غنی سازی یورانیم در ایران، روابط ایران با امریکا را دوباره وخیم ساخت. که بالاخره ایران در سال ۲۰۰۲ میلادی گلبدین حکمتیار را از نظارت خانگی رهایی بخشید و اجازه داد حکمتیار از سرحدات ایران به پاکستان و یا افغانستان داخل شده به فعالیت ها مسلحانه علیه عساکر امریکایی و حکومت افغانستان آغاز نماید. به تعقیب آن ایران به فکر بهبود روابط با طالبان شد. امریکا و حکومت افغانستان چندین بار از کشف وسایل جنگی ساخت ایران با طالبان سخن گفتند. با وجود عدم دوام روابط نیک با امریکا، در مرحله بعد از یازدهم سپتامبر، زمینه فعالیت های گسترده و طرح استراتیژی فراگیری برای ایران در افغانستان مساعد شد.

در سال های بعد از ۲۰۰۱ میلادی استراتیژی ایران در قبال افغانستان بیشتر روی حفظ منافع آبی، انتقال فرهنگی و حمایت از طالبان برای فشار علیه امریکا، متمرکز است.

آب های دریای هلمند و مرغاب- هریرود مسئله جنجالی بین ایران و افغانستان است. هر چند توافق نامه ای روی تقسیم آب دریای هلمند وجود دارد ولی ایران از چگونگی رسیدن مقدار آب به سرحداتش و حتی از مقدار مشخص شده ناراض است. این نارضایتی تنها در گفتار و اظهارات تبارز نه کرده، بلکه عملاً فعالیت های تخریبی ایران در نواحی دریای هلمند و هریرود ادعا شده است. اظهارات حسن روحانی رئیس جمهور ایران و محمد جواد ظریف وزیر خارجه، در مورد خطرات محیط زیست ایران، خوشکسالی کشنده و عدم رسیدن آب دریای هلمند به ایران، ثبوت خوب این مدعا است.

انتقال مسایل فرهنگی اما در چوکات استراتیژی کلان صورت می گیرد که ایران برای منطقه کشیده است. از ابزارهای قدرت نرم که ایران در دست دارد، مذهب شیعه، رسوم و عنعنات باستانی (مثل نوروز) و زبان فارسی، هر یک در افغانستان کارآمد دارد. مردم افغانستان نکات مشترک فرهنگی، زبانی و مذهبی با ایران دارند. با استفاده از مراکز فرهنگی، رسانه ای و تبلیغاتی که ایران در دست دارد، گروه ها و گروپ های سنی مذهب را متهم به تروریزم و افراط نموده و به مراجع مذهبی شیعه کمک مالی می نماید. استخدام بیشتر از ۲۰۰۰۰ تن از افغان ها در جنگ سوریه، نشان دهنده مؤثریت کار ایران در افغانستان است. در چندین نزاع بین محصلین پوهنتون کابل افراد وابسته به ایران دست داشته اند که به تفرقه های مذهبی و لسانی دامن می زدند. ویب سایت های زیادی در افغانستان وجود دارد که نشرات شان جز توهین برای قوم یا اقوام مشخص در افغانستان چیزی دیگری نیست و مرجع تمویل شان ایران است. با این کارها ایران خواسته است تعدادی را با استفاده از مذهب و تعدادی دیگری را با استفاده از مسایل لسانی از سایر اقوام افغانستان جدا نموده و مراکز فشار روی حکومت افغانستان را ازدیاد بخشد.

**روسیه**

روسیه به حوادث یازدهم سپتامبر به عنوان نقطه تغییر در سیاست خارجی خود و بهبود روابط با امریکا و غرب نگریست. ویلادیمیر پوتین در همان اوایل حادثهٔ یازدهم سپتامبر خواست به امریکا بفهماند که خطر تروریزم هر دو کشور را تهدید می کند و امید داشت که با همکاری با امریکا، سهمی فعالی در آینده ای اقتصاد و سیاست جهان ایفاء نماید. شمولیت در ناتو و سازمان تجارت جهان از آرزوهای پوتین در آن زمان بود. به همین دلیل وعده سپرد که در جنگ علیه تروریزم معلومات دقیقی را در مورد تروریستان، وسایل، مکان های آموزشی و منابع تمویل شان به امریکا تحویل دهد، با کشورهای آسیای میانه مشوره نماید تا همکاری نظامی خود را از امریکا دریغ نه نمایند، و در افغانستان با جبهه مقاومت و حکومت برهان الدین ربانی همکاری مستقیم نظامی نماید. به این ترتیب، روسیه برای اولین بار در سیاست خارجی خود در مقابل کشورهای آسیای میانه تغییر جدی آورد و اجازه داد امریکا در آسیای میانه حضور یابد. در مقابل این کار، از یک طرف جنگ خود علیه چیچن را تحت پوشش (جنگ علیه تروریزم) به شدت ادامه داد و درین کار حمایت امریکا را جلب کرد و از طرف دیگر، روابط خود با غرب و ناتو را تا حدی بهبود بخشید.

با گذشت زمان بهبودی روابط با امریکا برای روسیه چندان واقعی به نظر نه رسید. بر عکس آن، به زودی منافع امریکا و روسیه در مناطق مختلف جهان در مقابل هم قرار گرفت. در سال ۲۰۰۷ میلادی زمانی که امریکا تصمیم گرفت سیستم پیشرفته ای دفاع در مقابل میزایل های بالستیک را در شرق اروپا ایجاد نماید، روسیه به شدت به آن مخالفت کرد. این آغاز اختلاف شدید منافع با امریکا بعد از سال ۲۰۰۷ میلادی بود. در سال ۲۰۰۸ میلادی جنگ روسیه – جورجیا آغاز شد. روسیه ادعا داشت که از اتباع روسی ساکن جورجیا و کسانی که به زبان روسی صحبت می کنند، دفاع می کند. امریکا در مقابل روسیه از حکومت جورجیا حمایت نمود. در سال ۲۰۱۴ میلادی روسیه به زور اسلحه ولایت کریمیا از اوکراین را به روسیه ملحق ساخت. روسیه با ستراتیژی امریکا در شرق میانه هم به مخالفت پرداخت و حملات هوایی خود را در حمایت از رژیم اسد و سرکوب مخالفین، در سال ۲۰۱۵ میلادی آغاز کرد. منافع امریکا و روسیه در آسیای میانه بعد از بهبود روابط اقتصادی چین – روسیه (به خصوص بعد از آغاز پروژه یک سرک – یک کمربند که چین را به جهان وصل می سازد) در تضاد شدید قرار دارد. امریکا نمی خواهد نظام موجود در جهان طوری تغییر یابد که در آن برتری اقتصادی، سیاسی و نظامی امریکا زیر سوال رود. با وجود این همه، روابط امریکا- روسیه در افغانستان تا سال ۲۰۱۴ میلادی اهداف مشترکی را تعقیب می کرد.

روسیه به امید اینکه امریکا و ناتو خواهد توانست ثبات سیاسی و امنیتی را در منطقه ایجاد کند، اجازه داد وسایل نظامی شان را از طریق روسیه و آسیای میانه به افغانستان انتقال دهند و قرارداد فروش هلیکوپترهای Mi-17 روسی را برای اردوی افغانستان با امریکا امضاء نمود. در سال ۲۰۱۴ میلادی وقتی تنش بین امریکا و روسیه روی کریمیا اوج گرفت، اثرات آن روی موضوع افغانستان هم منفی بود. قرارداد خرید هلیکوپترهای روسی برای اردوی افغانستان با روسیه فسخ شد و روسیه علناً از استراتیژي ناکام امریکا در افغانستان انتقاد کرده و خواهان خروج نیروهای امریکایی به شکل تدریجی از منطقه شد. به تعقیب آن همزمان با کمک های مالی به حکومت افغانستان، روابط خود با طالبان را بهبود بخشید، تا در صورت روی کار آمدن دوباره این گروه، بتواند با خطرهای که روسیه را تهدید می کند، مقابله نماید.

**ادامه دارد...**

# د ظلم او ناروا دوام؛

## حامد کرزی: د عامو وګړو د کورونو نړول د بشري حقونو ښکاره نقض دی



په دې وروستيو کې د امنيتي ځواکونو ځينو کړنو پراخ غبرګونونه پارولي دي. پرون په رسنيو کې داسې راپورونه خپاره شول چې افغان ځواکونو په کندوز کې پر لاريون کوونکو ډزې وکړې، خو وروسته کورنيو چارو وزارت دغه راپورونه رد کړل. دغه پېښه د ډېرو افغان چارواکو له لوري وغندل شوه. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم وويل چې ځينې کړی له افغان ځواکونو د سياسي او شخصي موخو لپاره ګټه اخلي. پخواني ولسمشر دغه راز ويلي چې د امنيتي ځواکونو له لوري د ملکي وګړو د کورونو نړول هم جنايت دی او بايد د دې کارونو مخنيوی وشي.

څه موده وړاندې په ميدان وردګو ولايت کې افغان ځواکونو د يوه بېس د جوړولو لپاره د عامو وګړو کورونه ونړول او هلته يې خپل سرتېري ځای پر ځای کړل. له دې سره جوخت ويل کېږي چې افغان ځواکونو په تازه پېښو کې بيا هم د خلکو د کورونو په نړولو لاس پورې کړی دی او په خبره يې موخه دا ده چې د لويې لارې امنيت خوندي کړي. هغه مهال په ولسي جرګه کې د ميدان وردګو ولايت د خلکو استازو د حکومت پر دغه کړنه سخته نيوکه کړې وه او ژر تر ژره يې د حکومت له لوري د قانع کوونکي ځواب غوښتنه کړې وه.

تازه پخواني ولسمشر حامد کرزي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه دفتر له مشر تاداميچي ياماموتو سره کتلي دي او له نوموړي سره يې د عامو افغانانو د کورونو د نړولو موضوع شريکه کړې ده. د ده په خبره، افغان ځواکونو د عامو خلکو کورونه نړولي دي او دا بشري جنايت دی چې ملګري ملتونه بايد ورته متوجه وي. پخواني ولسمشر دا هم ويلي چې يوناما دې د ملګرو ملتونو له ماموريت سره په همغږۍ، د بشري حقونو د دغه ډول نقض مخنيوی وکړي او د مظلومو افغانو غږ دې نړيوالې ټولنې ته ورسوي.

پخواني ولسمشر د ټاکنو په اړه هم خپلې اندېښنې د ملګرو ملتونو له استازي سره شريکې کړې دي او ټينګار يې کړی چې دغه بنسټ دې د يوې بې طرفه نړيوالې مرجع په توګه د افغانستان د ټاکنو په مسئله کې همکاري وکړي. تاداميچي هم په يادو مواردو کې د همکارۍ ډاډ ورکړی دی او ويلي يې دي چې دوی د بشري حقونو خونديتوب ته ژمن دي او هېچا ته اجازه نه ورکوي چې بشري حقونه تر پښو لاندې کړي.

پخواني ولسمشر تر دې وړاندې هم د سياسي او شخصي اهدافو لپاره د افغان ځواکونو کارونه د هېواد په زيان بللي وو او ټينګار يې کړی و چې حکومتي چارواکي دې د خپلو شخصي موخو لپاره د افغان ځواکونو کارونه ودروي. د ده په خبره، دغه ځواکونه د هېواد د ملي ګټو د دفاع دنده لري او هغه کسان يې چې د شخصي موخو لپاره کاروي، د هېواد له قوانينو ښکاره سرغړونه کوي.

د افغان ځواکونو له لوري د ملکي وګړو د کورونو نړول داسې مهال غبرګون پاروي، چې د تازه راپورونو له مخې، په ميدان وردګو ولايت په تېره په سيداباد ولسوالۍ کې يو ځل بيا هم د ملکي وګړو کورونه نړول شوي دي. سره له دې چې په دې اړه مو پوره جزيات تر لاسه نه شوی کړی، خو په ولسي جرګه کې د ميدان وردګو وکيلان وايي چې دغه مسئله يې له لوړپوړو افغان چارواکو سره مطرح کړې ده.

د ولسي جرګې غړی عبيدالله کليمزی وايي، چې د افغان ځواکونو له لوري د نظامي اډې جوړولو او پراخولو لپاره د ملکي وګړو کورونه نړول شوي دي، چې په هېڅ صورت د منلو نه دي. د ده په خبره، دا د بشري حقونو نقض دی او حکومت بايد په دې اړه د ولس استازو ته ځواب ووايي.

د ولسي جرګې غړی عبدالرحمن وردګ هم وايي چې په ميدان وردګو ولايت کې د افغان ځواکونو عملياتو نه يوازې دا چې امنيت نه دی راوستی؛ بلکې ډېرې ستونزې يې زيږولې دي. د ده په خبره، د عامو وګړو د کورونو نړېدو مسئله يې له ملي دفاع وزارت سره مطرح کړې او چارواکو ډاډ ورکړی چې دغه ستونزه به ژر تر ژره حل کړي.

بلخوا د سيداباد ولسوالۍ د ملي خيلو اوسېدونکي هم وايي چې حکومتي ځواکونو يې کورونه نړولي دي او د دې کورونو پر ځای يې نظامي اډه جوړه کړې ده. دوی له حکومته غوښتي چې دوی ته قانع کوونکی ځواب ووايي او له ورته کړنو لاس په سر شي.

## د ننګرهار والي: د ښځو او ماشومانو په ګډون د داعش ډلې ٦٢٥ جنګيالي حکومت ته تسليم شوي

له ننګرهاره د را رسېدلو راپورونو له مخې، د داعش ډلې سلګونه جنګيالي حکومت ته تسليم شوي دي.

د ننګرهار والي شاه محمود مياخېل ازادي راډيو ته ويلي، تر اوسه پورې د داعش ٦٢٥ غړي تسليم شوي چې د هغوی په منځ کې ۴۰۰ مېرمنې او ماشومان او ۲۲۵ يې جنګيالي دي. په ختيځ کې د سېلاب قول اردو قوماندان تورن جنرال عبدالهادي ترين په جلال‌اباد کې يوې خبري غونډې ته د داعش د غړو د تسليمېدو دليل په شينوارو او شېرزاد ولسواليو کې د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو عمليات بللي دي.

په ورته وخت کې د ننګرهار والي د دې خبرې په تاييد ويلي: «د افغانستان امنيتي او دفاعي ځواکونو د اچين د ولس په ملاتړ د داعش پر ضد عمليات وکړل، د بندر او باغ درې له نيولو وروسته د داعش اکمالاتي لار بنده شوه او همدا دليل په اچين کې د داعشيانو د له منځه تګ يا تسليمېدو او يا تېښتېدو سبب شو او د خراسان د اسلامي خلافت مرکز، راډيو او هر څه له منځه لاړل».

د ننګرهار سيمه ييزو چارواکو دغه راز ويلي چې د داعش په تسليم شويو کسانو کې ۱۹۰ ښځې او ۲۰۸ ماشومان هم شامل دي.

بلخوا وسله‌والو طالبان بيا ويلي چې د دوی فشار د دې سبب شوی چې د داعش غړي حکومت ته تسليم شي.

دغه راز د ننګرهار د ولايتي شورا غړي عبيد شينواري منلې چې طالبانو هم په ننګرهار کې د داعش له ډلې سره جګړې کړې او تر يوه حده يې پر دې ډلې فشار راوړی، خو زياته کړې يې ده چې د افغان امنيتي ځواکونو او بهرنيو پوځيانو فشار د داعش غړي تسليمېدو ته اړ کړي دي.

هغه زياته کړې: «له تقريباً يو نيم يا دوو کلونو راهيسې په اچين کې عمليات روان وو، امريکايي پوځيان هم هلته اډه لري، خو اوس د داعش مرکزونه له منځه تللي، په وروستيو وختونو کې داعش تر سخت فشار لاندې و او خوراکي مواد نه ور رسېدل».

راپورونه وايي چې د داعش د افغان غړو مېرمنو او ماشومانو ته اجازه ورکړل شوې چې خپلو ولايتونو او اصلي کورونو ته لاړ شي، خو د دې ډلې له بهرنيو غړو څخه د ملي امنيت د رياست مامورين پوښتنې او څېړنې کوي.

د ننګرهار د والي په خبره، په تسليم شويو داعشيانو کې ۸۷ نارينه د پاکستان او نورو هېوادونو اتباع دي.

## د بشري حقونو کمېسيون: په ارګ کې د جنسي ځورونې د ادعاوو په تړاو يوه پېښه مستند شوې ده

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ويلي، په ارګ کې د جنسي ځورونې د ادعاوو په تړاو د څېړنو په ترڅ کې تر اوسه يوه پېښه مستند شوې ده.

د دغه کمېسيون غړې شبنم صالحي ازادي راډيو ته ويلي، هغه پلاوی چې د ولسمشر د فرمان له مخې د دغو ادعاوو د څېړلو په لپاره ټاکل شوی و، دې نتيجې ته رسېدلی چې له مطرح شويو ادعاوو د يوې په اړه يې سند موجود دی.

هغې ويلي، ټاکل شوي پلاوي په ځينو دولتي او غير دولتي ادارو کې د جنسي ځورونې اته نورې قضيې هم مستندې کړې دي.

د بشري حقونو کمېسيون د کمېشنرې د معلوماتو له مخې، په ټولو کې د جنسي ځورونې له ادعاوو، پنځه په ولايتونو او څلور په کابل کې دي.

صالحي زياته کړې: «موږ ۹ قضيې په دريو مياشتو کې تر لاسه کړې دي، چې موږ بيا دغه ۹ قضيې مستند سازي هم کړې، په ځينو قضيو کې موږ وتوانېدو چې د ثبوت وسايل پيدا کړو، خو په ځينو کې نه».

که څه هم صالحې په دې اړه ډېر جزيات نه دي ورکړي، خو ويلي يې دي چې مستند شوي موارد د دولتي ادارو په بېلابېلو سطحو کې دي.

د نوموړې په خبره، د دغو قضيو دوسيې د څېړنو لپاره لويې څارنوالۍ ته هم استول کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې شپږ مياشتې مخکې د ولسمشر پخواني امنيتي سلاکار حبيب‌الله احمدزي ادعا وکړه چې په ارګ کې ځينې دولتي کارکوونکي د فحشا د ترويج لپاره کار کوي.

ارګ دغه ادعا رد کړه، خو وروسته يې د بشري حقونو خپلواک کمېسيون په همکارۍ يو پلاوی جوړ کړ، څو دغه ادعاوې وڅېړي.

په ورته وخت کې ځينې مدني فعالان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون دغه ګام ستايي، خو ټينګار کوي چې دغه کمېسيون دې په قضايي ادارو کې هم د دغو دوسيو له څېړنو څارنه وکړي.

د يادونې ده چې له دې وړاندې هم په دولتي ادارو کې د اخلاقي فساد په اړه راپورونه خپاره شوي وو چې پراخ غبرګونونه يې هم راوپارول.

څو مياشتې وړاندې په فوټبال فدراسيون کې هم د نجونو د جنسي ځورونې راپورونه خپاره شول چې له امله يې د دغه فدراسيون رييس کرام الدين کريم له دندې لرې او څارنوالۍ ته معرفي شو.

## خامنه‌يي: د تېلو د بيو د لوړېدو په تړاو د حکومت له پرېکړې ملاتړ کوم



د ايران ستر مذهبي مشر ايت‌الله علي خامنه‌يي ويلي، د تېلو د بيو د زياتېدو په تړاو د حکومت له پرېکړې ملاتړ کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د ايران حکومت د پنجشنبې په ورځ د يوه ليتر تېلو بيه له ۹ سنټو څخه ۱۲،۷ سنټو ته لوړه کړه او ويې ويل چې د هر شخصي موټر خاوند په مياشت کې يوازې ٦۰ ليتره پټرول رانيولی شي.

خامنه‌يي په همدې تړاو لاريونونو ته په لومړي غبرګون کې ويلي چې د حکومت د پرېکړې ملاتړ کوي. هغه له امنيتي چارواکو هم غوښتي چې د امنيت د ټينګښت په برخه کې خپلې دندې په سمه توګه تر سره کړي.

د ايران دغه مذهبي مشر د تېلو د بيو پر نوموړي په ايران کې د تېلو د بيې د لوړېدو په اعتراض کې د خلکو پر لاريونونو هم نيوکې کړې دي. هغه دا نيوکې داسې مهال کوي چې د ايران په ډېريو ښارونو کې د جمعې له ورځې راهيسې لاريونونه پيل شوي او تر دې دمه يې سلګونه تنه نيول شوي او ځينې نور وژل شوي هم دي.

تازه راپورونه وايي چې د ايران په ځينو سيمو کې د پوليسو او لاريونوالو تر منځ خونړۍ نښتې هم شوې دي.

د دغه هېواد فارس خبري اژانس راپور ورکړی چې د ايران په بېلابېلو برخو کې نږدې زر تنه لاريونوال نيول شوي دي.

د ايران دغه مذهبي مشر د تېلو د بيو پر لوړېدو په اعتراض کې لاريونوالو ته ويلي، سره له دې چې په دې برخه کې ډېر خبر نه دی، خو د حکومت د مشرانو د پرېکړې ملاتړ کوي او بايد دا پرېکړه عملي شي.

هغه زياته کړې: «ما وويل چې په دې قضيو خبر نه يم، خو که د درې ګونو قواوو مشران فيصله وکړي، زه يې ملاتړ کوم. ما دا ويلي، ملاتړ يې هم کوم. د قواوو مشران دي، په خپل منځ کې سره کېناستل د خپل تخصص پر اساس يې د هېواد لپاره پرېکړه وکړه، بايد پرېکړه يې تطبيق شي».

په همدې حال کې په متحده عربي اماراتو کې د امريکا سفير جان رکولتا په دوبۍ کې له اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس سره په مرکه کې د ايران د لاريونونو په اړه ويلي: «موږ د رژيم د بدلون غوښتونکي نه يو، موږ به د ايران خلک پرېږدو چې د خپل راتلونکي په اړه په خپله پرېکړه وکړي، خو د دوی راتلونکې دا ده چې د نړيوالې ټولنې يوه برخه واوسي. فکر کوم چې خلک ناهيلي دي، دوی ازادي غواړي، دوی غواړي چې د نړۍ ازاد بازارونه ورته پرانيستي وي».

له دې مخکې د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو د ايران د حکومت ضد معترضانو ته ويلي وو، چې امريکا به له دوی سره په څنګ کې وي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**درېیمه برخه**

**افغانستان**

## اتم څپرکی
## په لوی ننګرهار کې نوي او پخواني اسلام پال





د وزیري یادېږي چې د ولسمشر نجیب الله له خبرو وروسته د ګوند مرکزي دفتر ته ډېر داوطلب کسان ورغلي وو چې د جلال اباد جګړې ته لاړ شي. د ډاکټر نجیب الله ټینګ دریځ او فصیح ژبې هم ډېر اغېز لاره. دې کار په پاکستان کې د افغان مجاهدینو ملاتړ کوونکي هم ویښ کړي وو.
نجیب الله ۲۰۰۰۰ دیني علماوو ته دنده ورکړې وه چې د افغان مجاهدینو په مخالفت دریځ غوره کړي. هغه له هند او غرب سره هم د اړیکو جوړولو هڅې وکړې څو یې د ګوند پر لاس د پخواني شوروي اتحاد له احتیاجه ووځي. تر ټولو اړینه دا وه چې هغه له مارکسېستي اېډیولوژۍ مخ واړاوه، په افغانستان کې یې په کور د ننه د خبرو اترو پراخ پروګرام پیل کړ. هغه پر خپل ګوند د «وطن» نوم کېښود او تر ډېره یې غیر حکومتي کسان په ګوند کې ګډون ته هڅول. نوموړي د بهرنیو پانګونو د هڅولو لپاره هم هڅې پیل کړې وې. ان مخالفینو یې هم ومنله چې نوموړی غواړي د تېرو واکمنانو تېروتنې هم جبران کړي.
د نجیب الله هڅو ته په پېښور او اسلام‌اباد کې د ګواښ په سترګه کتل کېدل. د ۱۹۸۹ز کال په فبروري کې ISI د سعودي د ۲۵ میلیونه ډالرو مرستې پر مټ په راولپنډۍ کې د افغانستان لنډمهاله حکومت جوړ کړ. ISI امریکایانو او د پاکستان ملکي اداري ته د جلال‌اباد د نیولو لپاره د یوې خونړۍ جګړې پلان جوړ کړ. د هغوی پلان دا و، جلال‌اباد ښار چې د افغانستان د لویو ښارونو له ډلې درېیم لوی ښار و، تر هغه وخته چې کابل نیسي، د لنډمهاله حکومت د مرکز په توګه اعلان کړي.
د ISI مشر، حمیدګل بېنظیر بوټو ته ویلي وو چې د جلال‌اباد ښار به د اونیو په اوږدو کې سقوط وکړي. د پاکستان لومړۍ وزیرې هم دې خونړۍ جګړې ته اجازه ورکړې وه. حمیدګل یو اسلام پال دریځ لاره. هغه بوټو ته ویلي وو: ((مور به تر هغه مخته ځو چې دارالحرب ختم شي او دارلامن ځای خپل کړي.))
د ۱۹۸۹ز کال د مارچ پر ٦مه، مجاهدینو د ختیځ ننګرهار د جګړې له لومړۍ کرښې تېر شول. مجاهدینو د ثمرخېلو ۱۱م کنډک ونیوه، خو ونه توانېدل هوایي ډګر هم ونیسي. راتلونکو ورځو او اونیو کې حکومت ته پر مجاهدینو بریدونه اسانه شول. پر دې سربېره چې حمیدګل په وار وار بوټو ته ډاډ ورکاوه، خو بیا هم جلال‌اباد سقوط ونکړ.
تر مې میاشتې پورې د مجاهدینو مرګ ژوبله زرګونو تنو ته ورسېده، د پېښور روغتونونه ټول د هغوی پر ټپیانو ډک شول. مجاهدین یوازې پر دې وتوانېدل چې شاوخوا غرونه لاندې کړي، خو هغوی ونشو کړای چې د جلال‌اباد کابل لاره بنده کړي. هغوی به ړانده راکټونه اورول چې ډېری وخت به پکې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښته. تر جولای میاشتې افغان سرتېرو له لاسه وتلې سیمې بېرته ونیوې او خپلې جګړه ییزې لیکې یې د پاکستان تر پولې ورسولې. په سپټمبر میاشت کې حکومت لوېدیځوالو خبریالانو ته اجازه ورکړه، لاړ شي او په جلال‌اباد کې عامو خلکو ته د مجاهدینو له لوري اوښتي زیانونه ووینې.
په دې څلور میاشتنۍ جګړه کې له (۱۰۰۰۰) ډېر جګړه کوونکي ووژل شول. دا جګړه د شوروي ملګري کمونېست رژیم او د امریکا ملګرو مجاهدینو په تېره یوه لسیزه کې تر ټولو خونړۍ هغه وه. منګل اسلام‌اباد او واشنګټن ته وویل چې د جلال‌اباد له جګړې باید عبرت واخلو او پوه شی چې «جګړه» د «حل» لار نه ده. خو منګل پر ناسمه روان و، د جلال‌اباد له جګړې وروسته یې د اسلام‌اباد او واشنګټن جګړه‌ییزه اشتها نوره هم تازه شوه. د ۱۹۸۸ز کال د جینیوا د تړونونو پر بنسټ روسان له افغانستان څخه ووتل. د تړون په خلاف دواړو لوریو، واشنګټن او مسکو خپلو پلویانو ته د جګړې د دوام په موخه وسلې ورکولې.
د جلال‌اباد جګړه نړیوالو جهادیانو ته ډېره اړینه وه. د ۱۹۸۰ز لسیزې په ټوله جګړه کې عربو له مجاهدینو سره تر ډېره ملاتړ کوونکی رول لاره. اسامه بن لادن په سپین غره کې کمپونه او مورچلې جوړې کړې وې. په ۱۹۸۹ز کال د جلال‌اباد له جګړې سره د اسامه بن لادن د تورې بورې کمپ (مساده الانصار) ډېره مرسته وکړه.
کله چې د ختیځ افغانستان پر جلال‌اباد جګړه وه، اسامه بن لادن په خپله د څپرهار په جګړه کې د څو ډلو مشري کوله. ډېری لاسوندونه داسې وو چې اسامه له کومې وېرې پرته د جګړه‌ییزو ډلو مشري کوله. د بن لادن د جګړه‌ییزې تجربې د کمښت له کبله یې کسان له سختو بریدونو سره مخ شول چې په پایله کې مرګ ژوبله هم ور واوښته. له جګړې وروسته ځینو ژغورل شوو سرتېرو څکه ژړل چې ولې په جګړه کې د اسلام لپاره قرباني نه شول. د هغوی له ډلې یې ځینو ویل: ((دا چې الله ج جنت زموږ نصیب نه کړ، کېدای شي ځینې ګناهونه مو کړي وي.)) بن لادن هغوی وهڅول ورته یې وویل چې د جګړې هر مورچل د جنت دروازه ده، نو که څوک غواړي جنت ته لاړ شي، باید چې د جګړې په سنګر کې و اوسي. په جګړه کې عرب، یمني او کوېټي جنګیالي وژل شوي وو. د جلال‌اباد په جګړه کې یوازې د بن لادن ۱۸۷ عرب پلویان وژل شوي وو، دا شمېر د تېرې یوې لسیزې له وژل شوو عربو ډېر و. ځینو عربو به افغان مجاهدینو ته پیسې ورکولې له هغوی به یې د کمونېست رژیم زنداني سرتېري اخیستل چې له دې ډلې یې ځینو په چاړو غاړې ور پرې کړې. په جلال‌اباد کې د مجاهدینو یوه قومندان، انجنیر محمود د رژیم ځینې ملاتړي او نیول شوي سرتېري پر عربو په ۱۰۰۰۰ ډالرو پلورلي وو چې هغوی بیا یو په یو ووژل.

**دوام لري...**

# علي شریعتي

شفیق امیرزی



علي شریعتي د ۱۳۱۲ لمریز کال د قوس یا لینډۍ په دویمه سبزوار ته نږدې د مزینان په کلي کې زیږېدلی دی. نیکه یې ملا قربان علي نومېده چې پر اخوند حکیم مشهور و. هغه یو فیلسوف او فقیه شخصیت و. د بخارا په پخوانیو مدرسو کې یې تدریس کاوه. د علي شریعتي پلار هم دیني او مذهبي سړی و چې محمد تقي شریعتي نومېده. تقي شریعتي په ۱۳۱۱ لمریز کال کې د زهرا امیني په نامه له یوې کلیوالې نجلۍ سره واده وکړ. د دې واده له نتیجې د دوی لومړنی اولاد علي شریعتي و. شریعتي خپلې لومړنۍ زده کړې د مشهد په ابن یمین ښوونځي کې په ۱۳۱۹ لمریز کال کې پیل کړې؛ خو په ۱۳۲۰ لمریز کال کې د هېواد وضعیت خرابېږي او محمد تقي اړ کېږي چې خپل زوی او مېرمن یې کلي ته ولېږي. په دې توګه نو د علي شریعتي په زده کړو کې یو څه وقفه راځي. وروسته چې وضعیت ښه شو، بېرته همدې ښوونځي ته راستون شو او خپلې زده کړې یې پیل کړې.
شریعتي په ۱۳۲۵ لمریز کال کې په فردوسي پوهنتون کې شامل شو. وروسته د لا ډېرو زده کړو لپاره په شپاړس کلنۍ کې د پوهنتون لپاره یې مقدماتي زده کړې پیل کړې. په ۱۳۳۴ لمریز کال کې یې د مشهد پوهنتون د بشري علومو په څانګه کې د ادبیاتو زده کړه پیل کړه. ده د فارسي ادب او ژبې د زده کړې لپاره متې بډ وهلې. دی یو خلاق انسان و، نو همدا لامل شو چې د زده کړو پر مهال د ابوذر غفاري ژباړه وکړي، د الکیسیس دعایه اثر وژباړي او د ادبیاتو په برخه کې مهمې تحقیقي مقالې ولیکي.
شریعتي خپل لېسانس همدلته بشپړ کړ او وروسته د دې په خاطر چې اول نمره و، د لا ډېرو زده کړو لپاره فرانسې ته ولېږل شو. ده د فرانسې په سوربن پوهنتون کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه. ده هلته د ټولنپوهنې، د تاریخ د علم بنسټونه، د دینونو تاریخ، د اسلامي فرهنګ تاریخ او ورته علومو پر مطالعه پیل وکړ. په ۱۳۴۳ لمریز کال کې بېرته ایران ته را وګرځېد. هغه ایران ته له راګرځېدو سره سم د ایراني حکومت له لوري ونیول شو. دوه کاله وړاندې دا حکم د ده په هکله صادر شوی و. له نیول کېدو سره سم د تهران قزل قلعه زندان ته ولېږدول شو. د همدې کال په لومړیو کې بېرته ازاد شو. ده بیا د ایران د تهران پوهنتون د فلسفې په څانګه کې تدریس پیل کړ، خو یو کال وروسته یې له دې دندې استعفا ورکړه.
علي شریعتي له نوې ځوانۍ په شیعه مذهب کې د نوښت او اصلاحاتو غوښتونکی و. دی پر دې باور و چې په دې مذهب کې په اوسني وضعیت کې ډېرې ستونزې موجودې دي او باید حل کړل شي. د ده پلار د اسلامي حقایقو د خپراوي د مرکز بنسټ اېښی و، نو دی هم تر ډېره په همدې مرکز کې و. دغه مرکز هم په شیعه مذهب کې د اصلاحاتو غوښتونکی و او ویل یې چې دودویز شیعه ییزم باید اصلاح شي.
شریعتي په ۱۳۳۷ لمریز کال کې له خپلې یوې ټولګیوالې پوران شریعت سره واده وکړ. پوران یوه زړوره نجلۍ وه او په پوهنتون کې به یې په جرئت سیاسي حقایق بیانول. په هغه وخت کې د ایران پر پادشا نیوکه کول اسان کار نه و، خو پوران دا کار کړی و او همدې مسئلې هغه شریعتي ته ارزښتمنه کړې وه. علي شریعتي په سیاسي ژوند کې له فعالیته لاس نه اخیست. په ۱۳۳۹ لمریز کال کې بېرته په ملي جبهه کې فعال شو. هغه دا مهال په اروپا کې و او هلته یې د دې جبهې په نشراتي برخه کې لیکل کول.
شریعتي د مشهد په پوهنتون کې استاد و او د اسلام پوهنې تدریس یې کاوه. هغه به ویل چې اسلامي ایډیالوژي د برابرۍ پر اصولو ولاړه ده او د برابرۍ ملاتړ کوي. ده د مارکسیستي ادبیاتو په کارولو خپل هدف بیاناوه، خو د مارکسېزم ملاتړی نه و. د نوموړي ویناوو له لومړي سره مخالفتونه را ولاړ کړل، چې سنتي روحانیون او چپیان یې د علي شریعتي پر وړاندې ودرول. چپیانو به هم ویل چې له مارکسېزم د ده مانا اخیستنه ناسمه ده.
حکومت د ۱۳۴٦ لمریز کال د هغو فعالیتونو د ختمولو په لړ کې چې د غلام رضا تختي تر مړینې وروسته پیل شوي وو، علي شریعتي هم ونیو او زنداني یې کړ. څو میاشتې په زندان کې تر پلټنې لاندې و. له زندانه تر ازادېدو وروسته څو میاشتې له وینا کولو او بحثونو منع شوی و. په ځلونو حکومت احضار کړ او پوښتنې ګروېږنې یې ترې وکړې. په ۱۳۴۵ لمریز کال کې یې لومړنۍ وینا په یوه حسینیه کې وکړه. دا یو بنسټ و چې په همدې کال کې د مذهبي نویوالي لپاره جوړ شوی و. د ده وینا د مرتضی مطهري ډېره خوښه شوه، هغه په هغه وخت کې د ایران د ارشاد د پروګرامونو مسوول و. په همدې وخت کې د مطهري له لوري را وبلل شو، څو د پیغمبر ص د بعثت په مناسبت د مقالو د لیکلو په یوه لویه برنامه کې له دوی سره همکاري وکړي، چې له همدې سره ډېر وهڅول شو او د کارونو ستاینه یې وشوه.
وروسته په حسینیه کې اختلافونه رامنځ ته شول. د ډېرو غړو اختلاف له مطهري سره و. له همدې امله مطهري ورو ورو په حسینیه کې له رهبرۍ سره اختلاف پیدا کړ او بالاخره یې په دې ورسره موافقه ونه کړه چې باید شریعتي له دندې ګوښه کړل شي.
د شریعتي مهم فعالیتونه د ۱۳۵۰ لمریز کال له حمل میاشتې پیلېږي. کله چې له حسینیه سره پرېکون کوي، نو له ډېرو علماوو سره یو ځای کېږي او له سره د اصلاحاتو راوستلو لپاره فعالیتونه پیلوي. شریعتي په دې مهال کې د روحانیونو، دودیزو واعظانو، ملي جبهې، نوي پالو روحانیونو او چپي انقلابیونو له مخالفت سره مخ شو. په همدې خاطر یې رادیکالي افکار پیدا کړل. پر روحانیونو او دودیزو مذهبي مسایلو یې توندې نیوکې پیل کړې. له چریکي جنبشونو سره یو ځای شو او انقلابي مارکسېزم ته یې مخه کړه.
شریعتي د خپلو دوو شاګردانو د وژل کېدو په غبرګون کې له تدریس مخ واړاوه او په وینا او وعظ یې لاس پورې کړ. ارشاد حسینیه ورو ورو د خلق د مجاهدینو د تجمع پر ځای بدله شوه. ده سره له دې چې د خلق مجاهدینو له غورځنګ سره رسمي اړیکه نه لرله، خو ویناوې یې دغه غورځنګ ته مهمې وې او د دې سبب شوې چې ډېر خلک د خلق مجاهدینو له ډلې سره یو ځای شي.
هغه په همدې توګه هڅه وکړه چې د مارکسیست چریکي مسلمانو ډلو تر منځ واحد دریځ او یووالی رامنځ ته کړي. خو په پای کې حکومت ارشاد حسینیه وتړله او د ۱۳۵۲ لمریز کال په میزان کې یې علي شریعتي چې ځان یې پټ کړی و، پیدا کړ او زنداني شو. شریعتي ۱۸ میاشتې په زندان کې و. په ۱۳۵۴ لمریز کال کې د شریعتي له ازادۍ پوره شپږ میاشتې وروسته، د مجاهدینو د موقف د تغیر او له مارکسېزم سره د دوی د یو ځای کېدو اعلامیه خپره شوه. په دې اعلامیه کې پر شریعتي هم نیوکې شوې وې. په همدې کال کې د حکومت په لارښوونه په کیهان مجله کې د شریعتي د یوه کتاب د خپرېدو امر وشو. د دې کتاب نوم (انسان، اسلام او د غربي ځمکې مکتبونه) و. په دې کې نو د شریعتي نظر بالکل بدل شوی و. هغه شریعتي چې تر زندان مخکې و او هغه چې اوس یې مقالې خپرولې، بیخي متفاوت و. پر مارکسېزم یې هم برید کړی و، مسلحانه مبارزه یې غندلې وه او د ملي پالنې ستاینه یې کوله.
د شریعتي مخالفان پر دې باور وو، چې د دې کتاب د خپراوي علت هغه فشار دی چې په زندان کې پر شریعتي راغلی دی. دوی به ویل، دا یا د فشار پایله ده او یا هم دی له حکومت سره موافق شوی دی. خو پلویانو یې بیا ویل چې دا د شریعتي مخکیني کتابونه وو، حکومت ضبط کړي وو او اوس یې بېرته د خپرولو اجازه ورکړه. شریعتي هېڅ وخت په دې اړه وضاحت نه دی ورکړی خو وایي، دا چې د خلق مجاهدینو خپله هدف بدل کړی او مارکسېزم ته یې کار ووایه، نو دی یې هم پر وړاندې بدل شو.
شریعتي له زندان تر خلاصون وروسته د حکومت تر سخت تعقیب لاندې و. په هېڅ صورت یې سیاسي فعالیتونه نه شوی کولی. تر دې چې موکه پیدا کوي او په مستعار نامه له ایرانه تښتي او ځان لندن ته رسوي. په ۱۳۵٦ لمریز کال کې شریعتي په لندن کې و. وروسته یې مېرمنې او کورنۍ هڅه وکړه چې په ده پسې ورشي. خو همدا چې حکومت خبر شو، نو د ده کورنۍ یې برمته او ممنوع الخروج اعلان کړه. په ۱۳۵٦ لمریز کال کې یې مېرمن او اولادونه ممنوع الخروج اعلان شول او د همدې ورځې په سبا دی په لندن کې ومړ. د نوموړي د مرګ لامل مغزي سکته وښودل شوه. سره له دې چې د ژوند پر مهال یې ډېری ایراني سیاستوال مخالف وو، خو تر مرګ وروسته یې ان مخالفینو هم د ده د نظریاتو طرفداري وکړه او په خپلو ویناوو کې یې د ده له ادبیاتو استفاده کوله.
شریعتي د اسلامي نړۍ یو متفاوت فکر لرونکی دیني عالم و. دی سره له دې چې مذهبي سړی و، خو پر ځینو مذهبي مسایلو په تېره په شیعه مذهب کې یې پر ډېرو شته دودونو نیوکې کولې. ده ویل، صفوي شیعه ییزم له پراخو خرافاتو او اضافي مواردو ډک دی، چې باید اصلاح کړل شي. د دې تر څنګ یې ویل چې په دغه مذهب کې په سلګونه مسخه شوي دودونه موجود دي چې حذف ته اړتیا لري. هغه یاد مذهب له جبر او ستونزو ډک باله.
دی په سیاسي لحاظ د یوه دیني حکومت د جوړولو مخالف و او ویل به یې چې د رایو په اکثریت د خلکو لپاره حکومت جوړول نه یوازې دا چې معقول کار دی؛ بلکې تر ټولو غوره کار هم دی. ده به ویل، د حکومت په جوړولو کې باید د خلکو نظریاتو او رایو ته درناوی وشي، ځکه تحمیلي حکومتونه ارو مرو له ماتې سره مخ کېږي. شریعتي ټینګار کاوه چې پر خلکو د روحانیونو او ملایانو د حکومت تحمیلول استبداد رامنځ ته کوي او استبداد د اسلامي نړۍ ملا ماتوي. ده ویل چې استبداد د استعدادونو لپاره قبرونه کیندي او په خبره یې د هېوادونو د ماتې سبب ګرځي.
د شریعتي پر ژوند تحلیل کوونکي وایي چې هغه د نوښتونو ملاتړی او د دې پلوی و چې حکومت، خلکو ته خدمات او سیاسي جریانونه باید د وخت له اړتیاوو سره سم متاع بازار ته وړاندې کړي. د ده پر ژوند وروسته ډېرې څېړنې وشوې چې هغه د اسلامي نړۍ لپاره ښه ارمانونه لرل، خو عمر یې د پوره کولو یاري ورسره ونه کړه. دی د عثماني خلافت پر وړاندې د صفوي سلطنت د درېدو له مسئلې سره هم مخالف و. ده به ویل، دا بهرنۍ دسیسې دي چې غواړي د اسلامي نړۍ ترمنځ اوږدمهاله جګړې رواني وساتي او دلته په دې توګه ملتونه په دوامداره توګه وځپل شي او کمزوري کړل شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۵ |
| € | ۸۶,۵۰ |
| Rp. | ۴۹۸ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۹,۶۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړني شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د کاري مصاحبې پر مهال دې پوښتنو ته مخکې له مخکې ځواب پیدا کړئ!

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د کاري مصاحبې پر مهال باید ځان د لنډې او ګټورې وینا لپاره چمتو کړئ، د ژوند، کاروبار او ورځنیو فعالیتونو په اړه مو خپل داستان جالب کړئ او د ځان په اړه ښه نظر مو مقابل لوري ته انتقال کړئ. څنګه کولاس شی پر همدې چاره بریالي شی؟ په وار وار تمرین سره. موږ د همدې چارې د ښه تر سره کولو په پار، په همدې مقاله کې ځینو هغو پوښتنو ته اشاره کوو، چې ممکن د کاري مصاحبې پر مهال له تاسې وپوښتل شي.

دې پوښتنو ته په پام سره به وشی کولای چې د ځان لپاره ښه دنده پیدا کړی او پر مټ یې هغه په ښه ډول سرته ورسوی.

۱ـ د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ چې کله تاسې د یو نسبتاً له تاسې سره د متفاوت شخص مرستې ته اړ وی.

۲- د هغو پېښو په اړه خبرې وکړئ چې که ستاسې د کاري ټیم تر منځ پېښې شي، څنګه به ورته د حل لاره پیدا کوی؟ په دې اړه یوه بېلګه وړاندې کړئ.

۳- د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ، کله چې تاسې له یو مهم شخص سره په ستونزه کې ښکېل یاستی او بالاخره وکولای شی هغه په ښه شکل سره حل کړی.

۴- موږ ټول تېروتنې کوو او زړه مو غواړي چې کاش وخت بېرته ګرځېدلی، څو مو هغه تېروتنې بېرته جبراً کړې وی او له ملامتیا یې خلاص وی. د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ چې تاسې له خپل همکار سره د اختلاف پر مهال، له یوې نوې او متفاوتې لارې مخکې لاړ شی، داسې چې هم ستونزه حل شي او هم مو همکار خپه نه شي.

۵- د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ کله چې تاسې له یو شخص او یا هم خپل همکار څخه داسې خبرې واورې، چې اصلاً د ویلو نه دي؛ تاسې به هغه وخت څه کوی؟

که د داسې کار د پیل لپاره تاسې مصاحبې ته غوښتل شوي یاستی، چې ډېر کار مو له مشتریانو سره وي؛ حتماً له دغو پوښتنو یوې ته خو یې حتمی اماده اوسئ. داسې یو څوک راته وښیئ چې خپل کاري ټیم او شرکت یې په ښه ډول مدیریت کړی وي، د خپل ټیم ښه استازولي یې کړې وي او د نورو سیالانو پر خلاف یې مشتریانو ته ښه خدمتونه وړاندې کړي دي؟

٦- د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ چې خپل مشتري ته به ستاسې د خداماتو په اړه ښه احساس ورکوی. هغه وخت به څنګه عمل کوی؟

۷- د داسې یوې صحنې په اړه راته ووایاست چې نه یاست توانېدلي، څو د مشتري انتظار پای ته ورسوی. دا وخت څه پېښ شوي دي او د دې شرایطو د حل لپاره مو څه کړي دي؟

۸- څنګه له خپلو خدمتونو د مشتري د خوښې او ناخوښې حدس کوی یا ځان ته هغه حد ټاکلی شی؟

۹- د هغې صحنې په اړه خبرې وکړئ چې تاسې له یو سخت او ډېرې چنې وهونکې مشتري سره مخ یاستی. دا وخت به څه کوی؟ څنګه کولای شی پر هغه خپل مال وپلورې؟

۱۰- د مشتریانو له یوې لویې ډلې سره د مخ کېدو پر مهال، هغوی ټولو ته دې ښو خدمتونو وړاندې کول سخت کار دی. تاسې به څنګه د خپلو مشتریانو اړتیاوو یا غوښتنو ته لومړیتوب ورکوی؟

حتماً داسې یوه ورځ راځي چې تاسې به پکې خپل ډېر مشتریان او ګټه وټه له لاسه ورکوی. تاسې د همداسې یوې ورځې او هغې بدې پېښې په اړه چې تازه ترې په بریالیتوب راوتي یاستی؛ فکر وکړئ. که مو په دې اړه نور څه ونه شو کړای، هغه درس چې له هغې مو اخیستی، حتماً یې په یاد راوړئ او ګټه ترې واخلئ.

۱۱- د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ چې تر سخت کاري فشار لاندې وی. څه پېښ شول او څنګه مو ځان له هغه فشاره خلاص کړ؟

۱۲- د هغه وخت په اړه فکر وکړئ چې شرکت مو نوي بدلونونه راوستل. دې بدلونونو پر تاسې څه اغېز وکړ او څنګه وتوانېدی چې له هغه سره ځان جوړ راولی؟

۱۳- د خپل لومړني کار یا دندې په اړه خبرې وکړئ. د خپلو کاري شرایطو او اصولو پېژندلو په اړه مو څه کار وکړ؟

۱۴- د هغه وخت په اړه چې تاسې له سختو شرایطو د وتلو باور پر ځان کړی دی، مثال ورکړئ.

۱۵- کله چې تاسې له ماتې سر مخ شوي یاست، د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ، څنګه مو ځان له دې وضعیته را وویست؟ یا په بل ډول، د هغه وخت په اړه چې تاسې ته به څو مسوولیتونه درسپارل شي او تاسې به په ښه ډول وشی کولای چې د هغو ټولو تر بار ووځی، ځان خبرو ته اماده کړئ.

۱٦- د هغه ستراتیژیک پلان په اړه مو هم خبرې وکړئ، چې تاسې به یې د لومړیتوبو پر اساس جوړوی.

۱۷- د هغه اوږدمهالې پروژې په اړه چې مدیریت یې تاسې ته درسپارل شوی دی، خبرې وکړئ. څنګه کولای شی هر څه ته په خپل وخت رسیده‌ګي وکړی؟

۱۸- هغه وخت چې د ټولو کارونو سرته رسول ممکن وو، تاسې د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ چې ستاسې مسوولیت له حده زیات و. څنګه مو هغه ټول مدیریت کړل؟

۱۹- د هغه وخت په اړه خبرې وکړئ چې د ځان لپاره مو موخه ټاکلې وه. څنګه باوري وی چې موخې ته به مو ورسېږی؟

۲۰- د هغه ځانګړي وخت په اړه چې باید څو مسوولیتونه مو مدیریت کړي وی، مثال ورکړئ. څنګه مو دا وخت هرڅه ته رسیده‌ګي وکړه؟

ممکن تاسې د ځان په اړه د دې ډول پوښتنو پر مهال کومه ستونزه ونه لری؛ ځکه اړیکې لرل او پالل نه یوازې دا چې له تاسې سره د ستونزو په هوارې کې مرسته کوي؛ بلکې دا د ژوند یو مهم اړخ دی چې دې نه لرلو په وخت کې یې سړی بند پاتې کېږي. په هر حال، هغه څه چې تاسې باید ورته تر هرڅه ډېر پام وکړی، هغه د هغه کار او دندې په اړه چې تاسې یې مصاحبې یا انټرویو ته غوښتل شوي یاستی، د پوره معلوماتو لرل او د پیل پر مهال د خپلو لومړنیو اقداماتو په اړه توضیح ورکول دي. دې هرڅه ته پوره چمتو اوسئ.

۲۱-د هغې صحنې په اړه هم خبرې وکړئ چې تاسې توانېدلي یاستی یو څوک مو قانع کړي او هغه ستاسې له نظره مسایلو ته کتلي. په دې اړه یو مثال ورکړئ.

۲۲- دې داسې یو څه په اړه چې هغه کاملاً نوي او یا هم پېچلي مسایل وي، تاسې خپل یو ناهیلي مشتري ته هغه توضیح کړي وي، یو مثال ورکړئ. هغه وخت مو څه وکړل؟

۲۳-د یوې بریالۍ ارایې په اړه مو معلومات ورکړئ، د دې هرڅه دلایل څه وو؟

کېدای شي له دې پرته د مصاحبې پر مهال هم ستاسې او مسوول کس تر منځ له خبرو اترو په جاج اخیستو سره داسې پوښتنې وشي، چې که چېرې تاسې هغه مهال هرڅه ته په ښه ډول متوجې وی، کولای شی خبرې وکړی او د مقابل لوري رضایت لاس ته راوړی.

## غالب: د برېښنا شرکت پېرونکي د برېښنا له درکه نهه میلیارده افغانۍ پوروړي دي

برېښنا شرکت ویلي، د دغه شرکت پېرودونکي د برېښنا له درکه نهه میلیارده افغانۍ پوروړي دي.

د یاد شرکت چارواکو دغه راز ویلي، دا چې شرکت ته برېښنا په لوړه بیه تمامېږي او دولت یې په ټیټه بیه خلکو ته ورکړي، باید دولت ورته «سب سایډي» ورکړي.

د ولسي جرګې غړو تېره ورځ د برېښنا شرکت مشر امان الله غالب د جرګې استجوابیه ناستې ته ورغوښتی و.

تر دې وړاندې د جرګې په ځینو ناستو کې نیوکه کېده چې د برېښنا بیه په ټول هېواد کې یو ډول نه ده، د برېښنا هغه پیسې چې وسله وال مخالفین یې اخلي، دغه شرکت یې تاوان پر عامو خلکو اچوي، په هېواد کې د برېښنا پر بندونو باندې کار نه کېږي، د دې شرکت ځینې چارواکي برېښنا مصرفوي، خو لګښت یې نه ورکوي او هغو سیمو ته د برېښنا رسونې په برخه کې پاملرنه نه کوي، کوم چې برېښنا نه لري.

د ولسي جرګې دویم مرستیال احمدشاه رمضان د ولسي جرګې په عمومي ناسته کې ویلي، له دې سره سره چې افغانستان ته وارداتي برېښنا په ځانګړي ډول له ازبکستان څخه افغانستان ته د بلخ ولایت له لارې د افغانستان نورو ولایتونو ته لېږدول کېږي، خو د نورو ولایتونو په پرتله په بلخ کې د برېښنا بیه دری برابره لوړه ده.

هغه ویلي: «که چېرې تر راتلونکې یوې میاشتې پورې دغه بیه د نورو ولایتونو په اندازه نه شي، د بلخ خلکو ته وایو چې د برېښنا هېڅ فیس تحویل نه کړي او په دغه ولایت کې به د برېښنا دروازه وتړو؛ همدومره مو زور رسېږي».

د دې جرګې بلې غړې نسیمې نیازۍ ویلي، هغه کسان چې د برېښنا بیل نه تحویلوي او زورواکي دي، برېښنا یې نه پرې کېږي، خو د یوه مظلوم ښاري برېښنا پرې کېږي او پارچاوي ورکول کېږي.

د برېښنا شرکت مشر امان الله غالب د ولسي جرګې په استجوابیه ناسته کې ویلي، د برېښنا شرکت په افغانستان کې دری دندې پر مخ وړي چې د برېښنا پېر او پلور، د برېښنایي تاسیساتو حفظ او مراقبت او د برېښنا اړوند د ځینو پروژو پلي کول دي.

د ده په خبره، د لمریزې برېښنا د پروژو پلي کول، د برېښنا بندونو جوړول، د تګلارو او مقررو جوړول، د پلان جوړونې او دا چې کوم ولایت ته کومه برېښنا ورکړل شي، د اوبو او برېښنا وزارت له مسوولیتونو څخه دي.

هغه زیاته کړې چې دا مهال د برېښنا ځینې مشتریان نږدې نهه میلیارده افغانۍ پوروړي دي چې ډېری یې پخواني او اوسني ځینې وزیران، پخواني او اوسني د ملي شورا غړي، زورواکي او نور کسان دي.

## راپورونه: په بدخشان کې د معترضو کاندیدانو پلویانو د ټاکنو کمېسیون پر دفتر برید کړی

د بدخشان په مرکز فیض اباد ښار کې د ولسمشریزو ټاکنو د معترضو کاندیدانو ځینو پلویانو د ټاکنو د کمېسیون پر دفتر برید کړی دی.

د بدخشان د پولیسو ویاند ثناءالله روحاني امریکا غږ ته ویلي چې د معترضو کاندیدانو طرفدارانو، چې په اعتراضي شکل یې د ټاکنو د کمېسیون مخکې خېمه وهلې وه، د کمېسیون پر دفتر برید کړی دی.

هغه ویلي چې دغو معترضو کسانو د کمېسیون پر دفتر کاڼي ویشتلي او د دفتر د وداني شیشې یې ماتې کړې دي.

په ورته وخت کې د بدخشان د ټاکنو کمېسیون دفتر مشر فرامرز منګل ویلي چې دوی د رایو د صندقونو په ګودام کې د رایو پر شمېر بوخت وو، چې د څو کاندیدانو پلویانو یې پر دفتر برید کړی، د دفتر شیشې یې ماتې کړې او موټر یې تخریب کړي دي.



هغه ویلي چې دغو کسانو د رایو د بیاشمېرنې مخه نیوله، خو کله چې دوی د رایو شمیر پیل کړل، پر دفتر یې برید کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم وړمه ورځ په کندوز کې د ثبات او همپالنې ټیم پلویانو د دغه ولایت د ټاکنو کمېسیون کارکوونکي ډبولي وو او د رایو د بیاشمېرنې مخه یې نیولې وه، خو یاد ټیم بیا ادعا وکړه چې ځانګړو ځواکونو یې یو ناظر وژلی او ډېر نور پلویان یې وهلي دي. په ورته وخت کې ولسمشرۍ ماڼۍ او کورنیو چارو وزارت د یاد ټیم دغه ادعاوې رد کړې او ټینګار یې کړی چې په ټاکنو کې د امنیتي ځواکونو د مداخلې په تړاو تر دې دمه هېڅ شکایت نه دی ثبت شوی.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۹مه | ٤٦٥مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۱۸ | ۲۰ | ۱٦ | ۲۲ | ۲۰ |
| ۳ | ٦ | ۷ | ۷ | ۱۰ | ۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۳ | لمر ختل ۰٦:۲۹ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:۲۸ | ماښام ۰٤:٤۸ | ماخوستن ۰٦:۱۵

## نبیل: روند بازشماری آرا خلاف قانون آغاز شده است



رحمت الله نبیل نامزد ریاست جمهوری ضمن تأکید بر اینکه که کمیسیون انتخابات، تاکنون به خواست های مشروع شان پاسخ نداده است، می گوید که کمیسیون برای آغاز دوبارۀ روند بازشماری آرا، خلاف قانون و طرزالعمل های انتخاباتی گام برداشته شده است.

این در حالیست که کمیسیون انتخابات، روند تفتیش و بازشماری آرای بیش از ۸۰۰۰ محل رای دهی را چند روز پیش آغاز کرده بود؛ اما این روند را چهارشنبه گذشته (۲۲ عقرب)، به دلیل ممانعت‌های تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی و مخالفت برخی نامزدان دیگر، متوقف کرد و به اساس تصمیم این کمیسیون، دو روز پیش این روند دوباره در ۲۸ ولایات آغاز شد.

رحمت الله نبیل، رهبر تیم امنیت و عدالت، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که کمیسیون انتخابات تاکنون به خواست های مشروع شان پاسخ نداده و بدون فراهم کردن قناعت نامزدان، روند بازشماری را دوباره آغاز کرده است.

وی با اشاره به بیش از ۱۳۷ رای قرنطین شده از سوی شرکت درملوگ، علاوه کرد که آدرس این آرا معلوم نیست، ولی کمیسیون انتخابات برای وارد کردن آن به سیستم، تأکید می کند.

نبیل در ادامه سخنان خود گفت که افغانستان با بحران های مختلف رو به رو است و کمیسیون مستقل انتخابات، نباید کشور را با بحران انتخاباتی مواجه سازد.

نبیل، با ذکر اینکه به بزرگواران حکومت مشوره های احساساتی داده می شود، علاوه کرد که اگر این مشوره ها، ۹۹ درصد هم به نفع شان باشد، باید به چنین مشورهای احساساتی گوش ندهند و آن را عملی نکنند.

وی از سفارت‌خانه‌های مقیم در کابل نیز خواست که در امور انتخابات مداخله نکنند؛ تا شک مردم در مورد مداخلۀ خارجی‌ها در امور انتخاباتی افغانستان به یقین مبدل نشود.

### نړۍ




## په ګرجستان کې د پارلمان د پرېکړې پر خلاف لاريونونه پنځمې ورځې ته غځېدلي دي

اعتراض کوونکو له تېرې ورځې راهيسې د ګرجستان په پلازمېنه تبليسي کې پارلمان ته ورتلونکې لاره تړلې او خبرداری يې ورکړی چې تر هغې به د پارلمان غړي دننه ورپرې نږدي، څو چې تر وخت د مخکې ټاکنو غږ ونه شي.

دغه اعتراضونه پنځې ورځې وړاندې، وروسته له هغې پيل شول چې پارلمان له مختلط څخه متناسب سيستم ته د ټاکنيز نظام د اړولو په برخه کې د اساسي قانون تعديل رد کړ.

د ګرجستان د کورنيو چارو وزارت په يوه اعلاميه کې ويلي چې دا لاريونونه



د قوانينو تر محدودې اوښتي دي. په اعلاميه کې دا نه دي ويل شوي چې د پارلمان ودانۍ له مخې، د دغو اعتراض کوونکو د لرې کېدو لپاره به اقدام وشي او که نه.

په ورته وخت کې ځينو غربي ډيپلوماتانو اندېښنه ښودلې چې ښايي دا اعتراضونه پر تاوتريخوالي واوړي. د امريکا متحده ايالتونو او اروپايي ټولنې د نومبر په ۱۷مه د ګرجستان له حکومت، سياسي ګوندونو او مدني ټولنو غوښتي چې د آرامۍ او درناوي وړ مذاکرات پيل کړي. په ګرجستان کې د اروپايي ټولنې پلاوي او هم د امريکا متحده ايالتونو سفارت په يوه ګډه اعلاميه کې ويلي، په اساسي قانون کې د تعديلاتو د تصويب په اړه د پارلمان د ناکامۍ له کبله د ګرجستان ټولنې د لويې برخې ژوره مايوسي مني.

معترضان ادعا کوي چې مختلط ټاکنيز نظام د ګرجستان د واکمن ګوند په ګټه دی.

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی


مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی AHF تصمیم دارد تا برای فامیل های ولایت وردگ و ننگرهار خریطه های پلاستیکی را جهت جمع آوری زباله‌ها خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (No-vember 19, 2019) الی (November 29, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم، شهر کابل.

procurement@coar.org.af

### ژوند

## انار هډوکي کلکوي



دا چې انار د هډوکو په پياوړتيا کې څومره ونډه لري، په اړه يې په ۲۰۱۳ ز کال کې څېړنه شوې ده. د څېړنو پايلو ښودلې چې انار د هډوکو د پياوړتيا لپاره فوق العاده مهم دي او نه پرېږدي چې هډوکي پوده او وراسته شي. له دې ټولو سره سره، انار د زړه د روغتيا لپاره تر ټولو ګټوره مېوه ده.

انار په خپل ترکيب کې غوړ او کالوري نه لري، خو په يوه زياته اندازه پوتاشيم او ويټامين سي لري. هغه انتي اکسيدان چې انار يې لري، په ښه ډول په وينه کې د کلسټرول پر وړاندې مبارزه کوي. د انارو بله ښېګڼه دا ده چې په بدن کې مړه شوي او تخريب شوي سلولونه له سره رغوي.

د انتي اکسيدان دنده په وينه کې دا ده چې اضافي کلسټرول له منځه وړي، د ازادو راډيکالونو پر وړاندې مبارزه کوي، نه پرېږدي چې وينه لخته شي، کله چې وينه لخته نه شي، په رګونو کې په اسانۍ جريان پيدا کوي. انار اسهال کابو کوي، وزن کموي، د وينې د لوړ فشار مخه نيسي او په ټوله کې يې خوراک انسان ته روحي سکون ور ښښي. هغه کسان چې په منظم ډول مېوه خوري، د نورو په پرتله يې عمر اوږد، پوست يې ښکلې او خوشاله اروا لري.

## هرڅه ستاسې د خپل فکر زېږنده دي

ځينې وخت کېدای شي له تاسې په زور ځوک يو څه واخلي، خو له نېکه مرغه بايد ووايم چې لا هم وخت شته، تاسې د خپل له لاسه وتلي شي يا تاج د ببرته اخيستو وړتيا لرئ.

هرڅه ستاسې د خپل فکر زېږنده دي.

ځان ته ووایاست: نور به زه يو کمزوری زده کوونکی نه وم. زه يو معمولي کس نه يم. ووايئ، زه يو ذکي زده کوونکی يم، له عقل او پوهې مالامال يم. کله چې غوره فکر کوئ، غوره ژوند به کوئ. له دې وروسته داسې فکر مه کوئ:

دې کار ډېر زيات وخت ونيو، ما مې خپل خواخوږي له لاسه ورکړل او يا دا چې له دې وروسته مې خوښيو له ژونده کډه کړې ده.

د دې پر ځای داسې ووايئ:

خدای پاک ما ته ځانګړې ښکلا راکړې ده. هغه چې زما په ژوند کې يې کوم



څه پيل کړي دي، خپله به يې پای ته رسوي. له دې وروسته د خپګان احساس مه کوئ، تاج مو ببرته پر سر کېږدئ. داسې فکر مه کوئ چې په ښه کورنۍ کې نه يم زېږېدلی، هېڅ داسې کومه خاصه ځانګړنه نه لرم. د دې پر ځای ووايئ: يو شهکار يم، په خپل ذات کې بې بېلګې او ډېر د ارزښت وړ يم.